# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د اپرېل ١٦مه | دویم کال| ۳٦٤مه ګڼه


## څېره

۴ مخ

### عمرالبشیر



سوډان د البشیر د واکمنۍ پر مهال د خونړیو کورنیو جګړو شاهد و. د جرمونو نړیوالې محکمې هغه پر بشري ضد کړنو تورن کس بللی او په ځلونو یې د هغه د محاکمې غوښتنه کړې ده.

# مشورتي لویه جرګه؛

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو او سیاسي جریانونو دغه جرګه تحریم کړه




۳

### قطر ناستې ته د حکومت او سیاستوالو جلا پلاوي او اندېښنې

۲ مخ

### تخلف غرب از حقوق بشر به بهانه مبارزه با تروریزم

۲ مخ

### د افغان سولې په تړاو د بین‌الافغاني خبرو اترو اړتیا

۳ مخ

## په غزني کې ۱۵۰۰ جریبه نوي بڼونه جوړ شوي دي



د غزني د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست ویلي، د دغه ولایت په ۱۵۰۰ جریبه ځمکه کې د بېلابېلو مېوو نوي بڼونه جوړ شوي دي.

دغه بڼونه چې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې «NHLP» په همکارۍ جوړ شوي دي، ۲٦ جریبه یې متراکم یا ګڼ بڼونه دي، چې معمولاً پر دویم کال حاصل ته رسېږي. په متراکمو بڼونو کې مڼه، ناک، ګیلاس او الوچې شامل دي.

د غزني د کرنې ریاست ویلي، د دغو بڼونو د جوړولو په پار یې د یاد ولایت ځینې مخکښ بڼوال د بڼونو د جوړولو له لارو چارو، خړوبولو، ګټې اخیستنې او د ناروغیو او افتونو د کنټرول په موخه، روزلي هم دي.

د دغو بڼونو جوړول له یوې خوا افغانستان د مېوو په برخه کې ځان بسایني ته نږدې کوي او بل لور ته د بڼوالو او بزګرانو په اقتصادي وده کې هم رغنده رول لوبوي.

## حکومت او سیاسیونو د قطر ناستې لپاره خپل لېستونه نهایي کړي دي

د قطر ناستې لپاره د حکومت او افغان سیاستوالو د پلاوي ترکیب نهایي شوی او ټاکل شوې چې د پنجشنبې په ورځ دغه پلاوی قطر ته سفر وکړي.

ویل کېږي چې د حکومت او افغان سیاستوالو پلاوي په جلاجلا توګه د قطر په غونډه کې برخه اخلي او هر لوری به د سولې او روان وضعیت په اړه خپل نظریات وړاندې کوي.

په دوحه کې د جوړېدونکې غونډې ګډونوالو ویلي، چې د افغان حکومت او سیاستوالو د پلاوي ترکیب نهایي شوی او هیله لري، چې د پنجشنبې په ورځ قطر ته لاړ شي.

د دې غونډې ګډونوال ګل رحمن قاضي په دې اړه ویلي: « دوی ټول به په یوه تیاره کې ځي، نو هلته به ټول سره یو ځای کېږي، طالبانو چې منلی همدا دې سولې ملي حرکت یې منلی دی».

د قطر ناستې په اړه د حکومت او سیاسیونو اختلاف له دې امله و، چې ویل کېږي حکومتي هیئت د قطر ناستې په لېستونو کې جنګ طلبه کسانو پر ګډون ټینګار کاوه. بلخوا د ولسمشریزو ټاکنو ځینې نوماندان پر حکومت نیوکه کوي، چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره یې د هر اړخیز پلاوي د جوړېدو مخه نیولې او تر ډېره یې وخت ضایع کړی دی. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند نورالحق علومي ویلي: «دا هم یو زیات وخت دی، چې فقط کوشش کوو چې وخت زیات شي او بیا په اینده کې مذاکرات وشي». د قطر ناستې لپاره د افغان سیاستوالو او حکومت د جلاجلا لېستونو نهایي کېدل داسې مهال دي، چې ټاکل شوې د افغان سیاسیونو هیئت د پنجشنبې په ورځ قطر ته لاړ شي او د جمعې په ورځ د قطر له امیر سره یو ځای د جمعې لمونځ ادا کړي.

## عبدالله له امریکایي سناتورانو سره په خبرو کې د سولې لپاره د خلیلزاد هڅې ستایلې دي



۵ مخ

## لیوجین سونګ: اماده هستیم که ۴۰۰ کودک افغان مبتلا به امراض قلبی تداوی کنیم



داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه کشور، دیروز با لیوجون سونګ سفیر کشور چین در دفتر کارش دیدار نمود.

در این دیدار آقای سونګ سفیر کشور چین در افغانستان، به ادامه همکاری های کشورش به افغانستان تأکید نموده و گفته است: «دولت چین آماده است تا دولت افغانستان را در بخش تداوی ۴۰۰ کودکی که به امراض جدی قلبی مبتلا اند، در کشور چین تداوی نماید».

سفیر چین همچنان تصریح نموده است که این کشور وزارت صحت عامه را در بخش تجهیز و ترمیم شفاخانه ولایت قندهار، تریننګ داکتران داخل خدمت، ترمیم و حفظ مراقبت شفاخانه جمهوریت مطابق تفاهم نامه ای قبلی و همکاری در قسمت عرضهٔ خدمات صحی در نقاط سرحدی بین افغانستان و چین، کمک می کند.

داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه کشور، از همکاری های بی سابقه چین به وزارت صحت عامه و مردم افغانستان ابراز قدردانی نمود و خواهان همکاری بیشتر این کشور در زمینه گردید.

چین قبلاً هم در بخش های صحی، معارف، تحصیلات عالی و سکتورهای دولتی و خصوصی به افغانستان کمک کرده اند.


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.

وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696

+93 (0) 202512626

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co@gmail.com

## دريـــځ

### قطر ناستې ته د حکومت او سياستوالو جلا پلاوي او انديښنې

د ارگ او سياسـتوالو دوه جلا پـلاوي بـه راتلونکـې پنجشـنبې قطر تـه ولاړ شي او هلته بـه لـه طالبانـو سره گـډه غونـډه وکـړي. تـر ورمـې ورځـې د حکومت او سياسـتوالو ترمنځ اختـلاف و او دوی بريـالي نـه شـول چـې گـډ پـلاوی وټاکـي، نـو سياسـتوالو پريکـړه وکـړه چـې دوی بـه لـه حکومت پرتـه غونـډې تـه ورځـي. لـه دې پريکـړې وروسـته حکومت اړ شـو چـې يو پـلاوی وټاکـي. معلومه نـه ده چې پـه دغـه پـلاوي کـې ځـوک دي، خـو اوس هم پـه دې تړاو ډېرې پوښـتنې او انديښـنې شـته. تمـه وه چـې حکومت بـه يـو پـلاوی وټاکـي او د دغـه پـلاوي غـړي بـه د سياسـتوالو او نـورو فعالينـو پـه ترکيب کـې قطر تـه لاړشي. پـه دې ډول بـه هـم حکومتـي استازي پـه غونـډه کـې وي او هـم بـه طالبان حـاضر شي، چې له حکومتـي پـلاوي سره وگوري. ويـل کېږي چې طالبانـو منلـې وه چـې کـه حکومتـي استازي پـه لـوی پـلاوي کـې ورشي، نـو دوی ورسره خـبرې کـوي. داسـې ښـکاري چـې حکومت لا هـم پـه دې اړه ستونزه لري، ځکـه د مصالحې پـه عالي شـورا کـې دوی بريالي نـه شـول، چې يـو پـلاوی وټاکـي او د سياسـتوالو توافـق پرې واخـلي. باخبره سرچينـې وايـي چـې حکومت پـه دغـه پـلاوي کـې د طالـب او سـولې ضـد کسـانو پـر گـډون ټينـگار کاوه او ويـل بـه يـې چـې قطر تـه يـو «دښـمن پـلاوی» بايـد ولېږو. همـدې چـارې تـه سياسـتوالو د مصالحـې د عـالي شـورا غـړو غبرگون وښـود او لـه حکومت سره يـې دا پـلاوی ونـه مانـه. لـه همـدې املـه دوی پـر يـوه گـډ پـلاوي توافق ونـه شـو کړلی. وروسـته سياسـتوالو او فعالينـو پريکـړه وکـړه، چـې لـه حکومت پرتـه غونـډې تـه ورشي او د مسـکو پـه شـان بلـه غونـډه وکـړي. حکومـت بيـا بـل گام واخيسـت او دا دی جلا پـلاوی يـې ټاکلـی دی. اوس هـم جـدي او اساسـي انديښـنه او پوښـتنه دا ده، چـې طالبـان بـه د حکومت جلا پلاوی ومني؟ داسـې نـه ښـکاري چـې طالبـان دې لـه خپـل دريـځ څخه پـه شـا شي او حکومتـي پـلاوی دې پـه خپلـواک ډول ومنـي او خـبرې دې ورسره وکـړي. اوس دلتـه بيـا وېـره ده چـې ښـايي حکومتـي پـلاوی يـا قطر تـه ولاړ نـه شي او يا هم کـېدای شي ولاړ شي، خـو هلتـه بـه طالبـان ورسره ونـه وينـي. کـه داسـې وشي، دا بـه نه حکومت تـه ښـه وي او نـه بـه هـم د سـولې لپـاره ښـه گام وي. دا هـم مهمـه او جـدي پوښـتنه ده چـې حکومت ځـوک او څـه ډول کسـان ټاکلي، دغه کسـان پـر سـوله او لـه طالبانـو سره پر خبرو بـاور لري او کـه نـه؟ وېـره ده چـې حکومت دې داسـې کسـان ټـاکلي وي چـې د ستونزې د حـل پـر ځـای دې د ستونزې لـه زياتولـو سره مرسـته وکـړي.
حکومـت تـه پـکار ده چـې داسـې گامونـه بند کـړي چـې د سـولې پر وړانـدې خنډ جـوړوي. حکومتـي پـلاوی بايد د لوی پـلاوي برخه شي چـې طالبـان ورسره خـبرو تـه حـاضر کـړي. لـه دې پرتـه د سـولې خـبرې بـه وړانـدې ځـي، ستونزې بـه وي، خـو حکومت لا زيـات منزوي کـېږي او زيـان يـې د حکومـت ترڅنـگ ولـس تـه هـم اوړي.

# نالوستي ليکونه



ليکنه: عبدالباري جهاني - دويمه برخه:

**د امير حبيب الله خان د دورې حالات د وسلو قاچاق:**

د امير حبيب الله خان په وخت کې د وسلو قاچاق دومره زور اخيستی و، چې حتی په کابل کې يې کاروانونه تېرېدل او مقاماتو هم څه نه ورته ويل. د خلکو لاسونو ته په دومره زيات شمېر د رنگارنگ وسلو لوېدلو د امير قدرت او سلطې ته ځکه تاوان رساوه، چې هم په ازادو قبايلي سيمو کې د انگرېزانو پر ضد پرله پسې شورشونه روان وو او هم په داخل کې. د هېواد په تقريباً ټولو اطرافي علاقو کې ناکرارۍ روانې وې، دا هغه پديده وه چې د امير عبدالرحمان خان په وخت کې يې چنداني تصور نه شو کېدلای. د همدغه کتاب د اووم ټوک په ۱۸۱م مخ کې د اگسټ د يوولسمې په رپوټ کې راغلي دي: «د کندهار يوه خان فضل الله امير عبدالرحمان خان ته شل روسي طلاکار ټوپکونه په سوغات کې راوړل. کله چې امير پوښتنه ورڅخه وکړه چې دا ټوپکونه يې څرنگه لاسته ورغلي دي، هغه په ځواب کې ورته وويل چې په پيسو يې اخيستي دي. امير پر هغه سړي باندې بد گومانه شو او داسې گومان يې وکړ چې هغه به د روسانو سره اړيکې لري. هغه يې رخصت کړ او ورته ويې ويل چې په چنداول کې به اوسېږي او کله چې هغه له درباره ووت، نو امير کوټوال ته امر وکړ چې پټ يې بندي کړي. کوټوال هغه سړی د امير د امر سره سم په هغه شپه بندي کړ».
امير عبدالرحمن هېچا ته د ټوپک او توفنگچو ساتلو اجازه نه ورکوله او د هغه په وخت کې د وسلو قاچاق د ستونزې په حيث مطرح نه و. د وسلو قاچاق د امير حبيب الله خان په وخت کې ځکه يو ډول زور واخيست، چې د افغانستان په هره سيمه، ازادو پښتني قبايلي سيمو او د آمو د سيند پر پورې غاړه يې ډېر زيات خريداران درلودل. دا وسلې د بلجيم د انټورپ (Antwerp) له ښار څخه په بېړيو کې د عُمان بندر ته وړل کېدلې او د عمان له بندر څخه د فارس د خليج له لارې په دښتو او غرنيو سيمو کې د منظمو او ډېرو زياتو وسله والو سړيو په بدرگه افغانستان، ازادو قبايلو، ترکمنستان، ازبکستان او نورو سيمو ته ورتللې. عُمان پخپله ۳۰ زره ميله مربع ساحه وه او د دومره پراخې مستقلې سيمې، چې په خپلو چارو کې يې د چا مداخلې ته هم اجازه نه ورکوله، کنټرول اسانه کار نه و. د عُمان له بندر څخه تر افغانستانه پر بېلابېلو لارو باندې د لويو قومي او قبايلي مشرانو مستحکمې کلاوې وې چې په هره يوه کې يې خطرناک وسله وال سړي اوسېدل او د زياتو پيسو په بدل کې يې د وسلو د قاچاقبرانو ساتنه کوله. که څه هم چې د دغو وسلو يوه برخه هم انگرېزانو او ايراني چارواکو را گرځوله، خو ډېره زياته برخه يې بيا هم افغانستان ته داخلېدله او کله چې به دا وسلې د افغانستان خاورې ته ننوتلې، بيا نو د قاچاقبرانو او د وسلو د کاروباريانو لپاره هرې سيمې ته رسول يې اسانه کار و. که څه هم چې د وسلو دغو کاروانونو د افغانستان وضع بې ثباته کوله، خو تر ټولو لويه ستونزه يې برېټانيا ته پيښه کړې وه. د برېټانوي هند مقامات په دې حقيقت پوهېدل چې په بشپړه توگه د وسلو د قاچاقبرانو او کاروانونو مخه نه شي نيولای، نو کوښښ يې کاوه چې تر څو يې وس رسېږي، په هغه اندازه يې کنټرول کړي. انگرېزانو ته يوه بله ستونزه د پښتنو شتمن کېدلو پيښه کړې وه، چې د هند په خاوره کې يې د تجارت او کاروبار له لارې ښې ډېرې پيسې پيدا کړې وې او پخپله يې د وسلو کارو بار ته لاس اچولی و. نور دا هغه پښتانه نه وو چې د ډېرو لږو پيسو په بدل کې به يې ځانونه لويو خطرونو ته ورکول او يا به يې يوازې د انگرېزانو له چونيو څخه په تښتول شويو وسلو له هغوی سره جنگونه کول. اوس يې کله کله، د وسلو د دغه کاروبار او قاچاق له لارې، داسې عصري ټوپکونه او مهمات ترلاسه کول، چې له انگرېزي وسلو سره به يې بشپړه سيالي کوله. نيويل ص ٣٦٦-٦٧
د دغو وسلو يو لوی مرکز پخپله د کابل ښار و او د کابل د حکومت تر سترگو لاندې په کاروانسرايونو کې وسلې خرڅېدلې او تبادله کېدلې. په کابل کې د انگرېزانو د حکومت استازی، چې د دې مضمون تقريباً ټول رپوټونه د هغه په حواله دي، فقير سيد افتخارالدين د ۱۹۰۸ ز کال د سپټمبر پر شپاړسمه په خپل رپوټ کې ليکي، چې د اپريديو او د تېرا د اوسېدونکو يوه بله دوه سوه څلوېښت کسيزه ډله کابل ته را ورسېده. د دوی ملکان نور خان، احمدعلي او يعقوب نومېږي. له دوی سره د نورالله په نوم يو ملا ملگری دی. له دې ډلې سره درې سوه ټوپک او مهمات دي. ميرصاحب جان او ملگرو يې نور ټوپک هم واخيستل. د انگرېزانو استازی وروسته ليکي: «حکومت د وسلو او مهماتو پر قاچاقبرانو باندې هېڅ ډول محدوديتونه نه وضع کوي. له دوی څخه نه د وسلو د واردولو او نه صادرولو په وخت کې ماليه اخيستله کېږي. د امير رعيت، د هغه له غوښتنې سره سم، ښه په وسلو سمبال دی. کله چې خلک د وسلو او مهماتو په تجارت کې، د افغانستان د حکومت اسانتياوېويني، نو د افغانستان له هر لوري او سرحدي سيمو څخه د کابل خواته توجه کوي. د کابل په بازارونو کې دغه گړی په زرهاوو ټوپک خرڅېږي او داسې ښکاري چې دوی غواړي د برېټانيې د حکومت د تبرې او يا د برېټانيې پر حکومت باندې د يرغل په صورت کې کار ورڅخه واخلي. سړی دا هم ويلای شي چې بېلابېل قبايل له يوه بل سره دښمنۍ لري او غواړي چې د يوه بل پر ضد ځانونه په وسلو سمبال کړي. مگر اصلي هدف يې له انگرېزانو سره جگړه ده». د انگرېزانو استازی د اگسټ د نهه ويشتمې په رپوټ کې ليکي، چې عبدالله خان شلگری له مسقط څخه اته لس سوه ټوپک را بار کړي وو. برېټانوي سمندري گزمې نهه سوه ټوپک ورڅخه ونيول او باقي پاته نهه سوه يې کابل ته را ورسول.
د برېټانيې همدغه استازی د همدغه کال د نومبر په يوولسمه رپوټ ورکوي، چې جلال خان شپږ سوه ټوپک او دادشير دوه سوه ټوپک کابل ته د خرڅلاو لپاره راوړي دي. د وسلو دا شمېر به کله کله دومره زيات شو، چې سړی نه پوهېږي د عُمان له بندر څخه تر کابل پورې، د انگرېزانو د پوځيانو او سمندري گزمو له دومره زياتو خنډونو سره سره، څرنگه تر کابل پورې رسېدلې دي. کله چې سړی د کابل تر بازارونو پورې د رسېدلو وسلو شمېر ته گوري، نو د دغه خطرناک تجارت او قاچاق د اصلي حجم په باره کې سم اټکل کولای شي.
د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د ډسمبر د شپاړسمې په رپوټ کې ليکي: «دوه اوښان چې ١٦٠ ټوپک ورباندې بار وو، تېره اونۍ د خرڅلاو لپاره را ورسېدل. مالکان يې وايي چې شپاړس پر وسلو بار اوښان يې د غزني حاکم را گرځولي دي. دوی وايي چې له هغه سره دعوه به ژر فيصله شي او وسلې به د پسرلي په موسم کې کابل ته ورسېږي».
که پر هر اوښ باندې اتيا ټوپک بار وي، نو په دې توگه د شپاړسو اوښانو بار ١٢٨٠ ټوپک کېږي او د استازي له خبرو او رپوټونو څخه ښکاري، چې دا تجارت همداسې روان و. د وسلو دغه تجارت او قاچاق د دويمې نړيوالې جگړې تر پايه پورې دوام وکړ او د انگرېزي استعمار او په وروسته کې د پنجاب د واکمن حکومت پر ضد مشهور مجاهد او مبارز، ايپي فقير يوه اندازه وسلې له دې لارې تر لاسه کولې.
د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د اکتوبر د اوومې په رپوټ کې ليکي: «اته تنه زخه خېل نن د وسلو د رانيولو په حال کې وليدل شول. له هغوی څخه د يوه نوم علاءالدين دی. د سپټمبر پر نهه ويشتمه لوهاني سوداگرو پنځه سوه نور ټوپک، د خرڅلاو لپاره بازار ته راوړل. د وسلو ځينې خرڅوونکي وايي چې دوی به اوس ديره اسمعيل خان ته ځي او هلته به څو مياشتې پاتېږي. له هغه ځايه به سکر ته ځي او هلته به شالونه پلوري. دوی به د اپرېل په مياشت کې کراچۍ ته ورسېږي او له هغه ځايه به بېرته خپل هغه ځای ته، چې وسلې ورڅخه راوړي، روانېږي. دوی وايي چې دا ځل يې ځکه ډېر تاوان وکړ، چې د برېټانيې حکومت ډېرې زياتې وسلې ورڅخه ونيولې».
په دې ترڅ کې به کله کله عجيب او غريب عمليات کېدل. پښتانه به په ځانونو خبر نه و او د انگرېزانو استازي به د ملگرو يا ترجمانانو په حيث ورسره روان شول. مخکې له هغه چې دوی په عملياتو پيل وکړي، د نقشو رپوټونه به يې د انگرېزانو پوځ ته رسېدلي وو. د انگرېزانو استازی په همدغه رپوټ کې ليکي: «يوڅو تنو د خيبر اوسېدونکو، چې زما يو دوست هم ورسره ملگری و، له يوه ترکي انجنير سره چې د باروتو په جوړولو کې ماهر دی او پوهېږي چې بم څرنگه جوړ کړي، وکتل. دوی له هغه څخه وغوښتل چې د بمونو د جوړولو طريقه ورته وښيي او د موادو پيسې به يې ورته تاديه کړي. تر هغه وخته پورې چې د خيبر دغه اوسېدونکي په کابل کې وو، دوه درې ځله يې له ترکي انجنير سره وکتل. که دوی د بمونو په جوړولو کې بريالي شي، نو د دوی لومړی هدف به د (سرجورج) روس کېپل يا جلالتماب لارډ کيچنر وژل وي».
**دوام...**

# تخلف غرب از حقوق بشر به بهانه مبارزه با تروریزم

امروز وضعیتی پدید آمده است، که جامعه جهانی ناگزیر است، راه سخت‌تر کردن وظایف نظارت کننده ای ارگان‌های انفاذ قانون و ادارات استخباراتی برای مبارزه با تهدیدات تروریستی و جرایم را در پیش بگیرد. دفاع از حقوق بشر برای حیات و امنیت فزیکی در بسیاری از موارد در مخالفت با سایر اصول در بخش دفاع از حقوق بشر قرار دارد.
چه چیز بیشتر مهم می‌باشد، حقوق بشر و یا تأمین امنیت آن؟ در حالی‌که این سوال بی‌جواب باقی مانده است، کشورهای غربی از خط مشی بسیار سخت برای تقویت وظایف ساختارهای دولتی در قسمت تنفیذ قانون و توسعهٔ مقتضی امکانات آنها پیروی نموده که این امر به محدود کردن حقوق و آزادی‌های شخصی شهروندان منجر می‌گردد.
دولت‌های غربی زیر پوشش اهداف ضد تروریستی، اغلب حقوق اتباع مربوط به مصؤنیت شخصیت و محاکمه عادلانه را پایمال می‌کنند که با توقیف‌ها، بازداشت‌ها، شکنجه‌های غیرقانونی و اعدام‌های صحرایی مجسم می‌شوند. چنین مواردی در یوگوسلاویا، عراق رخ داده و امروز در سوریه و سایر کشورهای جهان بوقوع می‌پیوندند.
کشتار غیرنظامیان در افغانستان در لست چنین جرایم نیز قرار دارد و این مشکلی است که تاریخ دیرینه دارد. خبرنگاران مجله آلمانی «شپیگیل (Spiegel)» باین نتیجه رسیده اند که بمباردمان هوایی مرگبار ناتو در چهارچوب عملیات‌ها غرض نابودی رهبران طالبان که اکثراً با تلفات بزرگ در بین باشندگان ملکی همراه بوده، از اقدامات شدید نبوده، ولی یک امر معمول بوده است. مثلاً، در سال ۲۰۰۹ میلادی ۲۴۱۲ نفر غیرنظامی در افغانستان جان‌های خود را از دست داده اند که ۱/۳ آن توسط نیروهای مسلح ناتو و نیروهای بین المللی برای کمک به امنیت (ISAF) کشته شده است. تعداد عملیات‌های بر علیه طالبان ممکن تا ۱۵ عملیات در یک شب می‌رسید. دیوید پیتریوس (قوماندان سابق ISAF) در سال ۲۰۱۰ میلادی اعلام نموده بود که طی ۳ ماه، ۳٦۵ نفر از قوماندانان طالبان توسط قوت‌های این ائتلاف از بین برده شده اند (حد اوسط ۴ نفر در روز). حضور نیروهای امریکایی در افغانستان با مواردی از کشتارهای بدون تشخیص هدف در بین افراد ملکی همراه بوده است.
مجرمین شامل یک لست متشکل از بیشتر از ۷۵۰ نفر از بین رفته اند که بسیاری از آنها را طالبان رده های متوسط و پایین تشکیل داده و با قوماندانان این گروه تندرو ارتباط نداشتند. تصامیم مبنی بر اجرای ضربات از هوا در صورتی اتخاذ می‌گردید که نام فرد مورد نظر طی تماس تلیفونی در لست مجرمین قرار داده می‌شد و این دلیلی بود برای وارد نمودن ضربات هوایی در جریان ۲۴ ساعت بر هدف مورد نظر .
با به قدرت رسیدن حکومت جدید، وضعیت در رابطه به کشتار غیرنظامیان فقط بدتر شده است. طبق آمار ماموریت سازمان ملل متحد برای کمک به افغانستان (UNAMA)، طی سال ۲۰۱۸ میلادی در نتیجه عملیات‌های نظامی و بمباردمان های هوایی با حمایت نیروهای ائتلاف خارجی تقریباً ۲٦۰۰ فرد ملکی در تمام کشور جان‌های خود را از دست داده اند که این رقم ۲۴٪ افزایش را نسبت به سال ۲۰۱۷ میلادی نشان می‌دهد. این در حالی است که اکثریت موارد تلفات در بین غیرنظامیان ناشی از ضربات قوت‌های هوایی ایالات متحده امریکا بوده است. نظر به بعضی معلومات، در نتیجه بمباردمان نیروهای امریکایی، از آغاز سال ۲۰۱۹ میلادی الی اکنون تقریباً ۳۰۰ نفر جان‌های خود را از دست داده اند.
علاوه بر حق حیات، تخلف از سایر حقوق بشری نیز صورت می گیرد. همه از نمونه های اعمال آن شکنجه های آگاهی دارند که بخصوص در زندان های امریکایی «گوانتانامو» و» ابو غریب «معمول می‌باشد.

# د افغان سولې په تړاو د بین‌الافغاني خبرو اترو اړتیا

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

په قطر کې د امریکا او طالبانو ترمنځ له پنځمې ناستې را وروسته، څو ورځې وړاندې زلمی خلیلزاد کابل ته په سفر راغی، څو له افغان سیاستوالو او حکومتي چارواکو سره د سولې په تړاو خبرې وکړي. نوموړي د ولسمشر غني په ګډون له ځینو دولتي چارواکو، افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو، افغان مېرمنو، ځوانانو او د مدني ټولنې له استازو سره کتلي او د سولې بهیر په تړاو یې بحثونه کړي دي.

خلیلزاد افغانستان ته د سفر پر مهال له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي: «د افغان سولې په تړاو د روانو خبرو په لومړیو پنځو پړاوونو کې هغه مسایل مطرح شوي، چې په طالبانو او د امریکا په حکومت پورې اړه لري، خو له دې هاخوا پر نورو مسایلو هر ډول بحث کې باید افغان حکومت موجود وي، د سولې پر یوه پلان کار وشي او د همدې پلان له مخې لومړی ښکېلې غاړې یوه سیاسي جوړجاړي ته ورسېږي او اوربند اعلان شي».

زلمی خلیلزاد پر بین الافغاني خبرو اترو داسې مهال ټینګار کوي، چې ټاکل شوې روان زېږدیز کال په قطر کې د طالبانو او بېلابېلو افغان لورو ترمنځ د مسکو ناستې پر دوام، دویمه ناسته وشي.

د افغان سولې په تړاو د امریکا، افغان حکومت او طالبانو دریځونه او دا چې څنګه کېدای شي د سولې په تړاو د افغانانو ترمنځ یو واحد دریځ رامنځته او بین الافغاني خبرې پیل شي، هغه موضوعات دي، چې دلته یې په اړه بحث شوی دی.

**غني څه ډول سوله غواړي؟**

سوله او د روانې جګړې پای ته رسول د ولسمشر غني له مهمو ټاکنیزو شعارونو څخه وو. ان داسې ګنګوسې هم وې چې ګواکې ولسمشر غني د ټاکنو پرمهال طالبانو او طالبانو ته نږدې کسانو ته ډاډ ورکړی و، چې د امکان تر حده به د امنیتي تړون لاسلیک کول ځنډوي او سولې ته به کار کوي، خو ارګ ته تر رسېدو وروسته یې، په ۲۴ ساعتونو کې دننه د امنیتي تړون په لاسلیک کولو سره د سولې لارې بندې کړې.

که څه هم له امریکا سره د امنیتي تړون له لاسلیکولو وروسته ولسمشر غني د ملي یووالي حکومت پرمهال په مختلفو ډولونو ډېره هڅه وکړه چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته کېنوي، خو د سولې په تړاو د نوموړي دغه ټولې هڅې د یوې حکومت محوره پروسې لپاره وې. یعنې افغان حکومت تل هڅه کړې چې طالبان هم د حزب اسلامي په شان سولې ته غاړه کېږدي او د یوې ډلې په توګه له افغان حکومت سره یو ځای شي، خو دا هغه څه دي چې طالبانو یې تل مخالفت کړی او له لویه سره یې د ولسمشر غني په مشرۍ حکومت «نامشروع» ګڼلی دی.

په اوسمهال کې د افغان سولې په تړاو د امریکا۔ طالبانو ترمنځ له روانو خبرو او په بل اړخ کې د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو او مدني ټولنو استازو ترمنځ له پیل شوو خبرو د افغان حکومت ناخوښي او ان مخالفت دا ښیي چې د سولې په تړاو د ولسمشر غني هڅې د یوې رښتینې او پایداره سولې په پار نه وې، بلکې د نوموړي ټاکنیز سیاست ته په کتو سره داسې ښکاري چې ولسمشر غني ته په واک کې پاتې کېدل لومړیتوب لري، نه سوله.

**د سولې په اړه د طالبانو دریځ**

د سولې په تړاو طالبانو تل له افغان حکومت سره منحیث د حکومت له مخامخ خبرو ډډه کړې او یوازې یې له امریکا سره پر مخامخ خبرو اترو ټینګار کړی دی. که څه هم په لومړیو کې امریکا له دې ډلې سره د سولې خبرو ته لېواله نه وه، خو د جګړې له اوږدېدو او ورځ تر بلې خونړي کېدو سره امریکا هم له دې ډلې سره د سولې خبرو ته غاړه کېښوده.

د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ په روانو خبرو کې طالبانو له لومړي سره تر هرڅه وړاندې په افغانستان کې د بهرنیانو د حضور په اړه پر خبرو اترو او یوې هوکړې ته پر رسېدو ټینګار کړی دی. که څه هم د دواړو لورو ترمنځ تر دې دمه پنځه ځلې مخامخ خبرې شوې دي او د دغو خبرو اترو په لړ کې ډېرې وخت رسنیو داسې رپوټونه خپاره کړل، چې ګواکې امریکا او طالبانو په افغانستان کې د بهرنیانو د حضور له قضیې ورهاخوا د بین الافغاني خبرو د پیل، اوربند او لنډمهاله حکومت د جوړېدو په تړاو هم خبرې اترې کړې دي، خو طالبانو تل دا ډول رپوټونه رد کړي دي.

د سولې په تړاو د طالبانو دریځ دا دی چې لومړی به له امریکا سره په افغانستان کې د بهرنیانو د حضور د پای ته رسولو په اړه یوې هوکړې ته رسېږي. وروسته به بین الافغاني خبرې (د طالبانو او ټولو افغان سیاسي ډلو ترمنځ وي، نه دا چې یوازې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ وي) پیلوي.

په دې تړاو په مسکو کې د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو ګډه ناسته یې لومړنی ګام و. دغه راز ټاکل شوې چې دې ته ورته دویمه ناسته په قطر کې هم وشي. که څه هم دې ډول ناستو د افغان سولې په تړاو هیلې زیاتې کړې دي، خو په ورته وخت کې بیا له دې ډول ناستو سره د افغان حکومت کلک مخالفت د سولې په خبرو کې یو ډول بن‌بست او خنډ رامنځته کړی دی.

**واشنګټن او افغان سوله**

امریکا د افغانستان د روانې جګړې د یوه اصلي او مهم اړخ په توګه له ۱۷ کلونو وروسته پرېکړه کړې چې نور له دې جګړې ځان وباسي، له همدې امله یې نږدې شپږ میاشتې وړاندې له طالبانو سره خبرې پیل کړې.

د افغان جګړې د پای ته رسولو په موخه لومړی پړاو د امریکا ـ طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې وې. د دغو خبرو له پنځمې ناستې را وروسته اوسمهال داسې ویل کېږي چې دواړه لورې په دوو مواردو؛ له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل او دا چې په راتلونکې کې به د افغانستان خاوره د نورو پر ضد نه کارول کېږي، یوې عمومي هوکړې ته سره رسېدلي او د دې هوکړې مسوده به هم د دواړو لورو ترمنځ په راتلونکې (شپږمه) ناسته کې لاسلیک شي.

د افغان سولې په تړاو د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد افغانستان ته د خپل وروستي سفر پر مهال ویلي چې د امریکا ـ طالبانو ترمنځ په تېرو پنځو ناستو کې هغه مسایل مطرح شوي چې په طالبانو او امریکا پورې یې تړاو درلود، خو له دې وروسته به د سولې په تړاو هر بحث کې د افغان حکومت موجودیت ضرور وي. دغه راز نوموړي ویلي چې ښایي په افغانستان کې د امریکا رول ورو ورو کم شي او افغانان باید ډېر مسوولیتونه په خپله غاړه واخلي.

د خلیلزاد له دغو څرګندونو ښکاري چې امریکا له طالبانو سره یوې عمومي هوکړې ته رسېدلې او اوسمهال هڅه کوي چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کېنوي. امریکا غواړي چې د افغانستان په قضیه کې ټول ښکېل افغاني لوري په خپل منځ کې سره کېنوي، څو په راتلونکې کې د واک پر سر له یو بل سره ښکېل نه شي.

**پایله**

د افغان سولې په تړاو د بین الافغاني خبرو د پیل په موخه که څه هم د افغان حکومت او طالبانو په دریځونو کې خورا توپیر لیدل کېږي، خو اړتیا ده چې دواړه لوري د سولې روانې خبرې یو تاریخي چانس وګڼي او له دغه چانس څخه د څلوېښت کلنې جګړې ختمولو او د هېواد د ثبات او ښه راتلونکې په موخه ګټه واخلي.

افغان حکومت او طالبان له افغانستانه د شوروي اتحاد له وتلو وروسته د رامنځته شوي وضعیت یوه ډېره ښه تجربه لري. همدې تجربې ته په کتو سره نه ښایي چې د سولې رامنځته شوی چانس د قدرت‌طلبۍ د غوښتنو قرباني شي. په روانو حالاتو کې د اوسنې حکومت د بقا پر ځای ښه ده چې د راتلونکې لپاره په افغانستان کې د یوه تلپاتې نظام د رامنځته کولو پر څرنګوالي انرژي مصرف شي او ښکېل افغان اړخونه داسې مسوولانه چلند وکړي چې د هېواد او ملت په خیر وي.

اوس پوښتنه دا ده چې دا چاره څنګه شونې ده؟ په لومړي سر کې اړتیا ده لکه څنګه چې امریکا او د سیمې هېوادونو د امریکا ـ طالبانو د خبرو د پیل او بریا په موخه هڅې کولې، داسې د بین الافغاني خبرو د بریا په موخه هم رښتینې هڅې او همکاري وکړي. له بله اړخه د بین‌الافغاني خبرو اترو د ښه پرمختګ په موخه اړتیا ده چې هم طالبان او هم افغان حکومت انعطاف او په دریځونو کې تنازل راولي. طالبانو او افغان حکومت ته پکار ده چې د یوې ولس محوره سولې د راتګ په موخه رښتیني او ګړندي ګامونه واخلي.

له دې ټولو سره سره، ښه ده چې د امریکا ـ طالبانو له خبرو وروسته د نړیوالو تر څارنې لاندې د افغان حکومت، مختلفو افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو او طالبانو ترمنځ درې اړخیزې خبرې اترې پیل شي او نړیوال د دغو خبرو د بریا لپاره صادقانه هڅې وکړي، څو راتلونکی نظام د ټولو افغاني اړخونو مشترک او ګډ نظام جوړ شي.

# مشورتي لویه جرګه؛

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو او سیاسي جریانونو دغه جرګه تحریم کړه




سره له دې چې د ډېرو په باور مشورتي لویه جرګه د سولې د راتګ او ملي پخلاینې لپاره مهمه لار بلل کېده، خو ګڼو سیاسي ډلو او احزابو په دې وروستیو کې له دې جرګې سره پرېکون کړی دی. تازه تر اجرایه رییس وروسته حنیف اتمر، رحمت الله نبیل، احمدولي مسعودي، نورالحق علومي، فرامرز تمنا او ګڼو نورو انتخاباتي ټکټونو او سیاسي جریانونو د سولې له مشورتي لویې جرګې سره مخالفت ښودلی او جوړېدونکې جرګه یې حکومتي او فرمایشي بللې ده. دوی ویلي، چې د سولې مشورتي لویې جرګې په نوم ولسمشر غني د خپل واک دوام غواړي او د همدې لپاره یې د جرګې د ترکیب او غړو د انتخاب په برخه کې له هېڅ لوري سره مشوره نه ده کړې.

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم له لوري د مشورتي لویې جرګې تر تحریمولو یوه ورځ وروسته د ولسمشریزو ټاکنو ګڼو ټکټونو او سیاسي جریانونو له جوړېدونکې لویې جرګې سره مخالفت وښود او پکې د نه ګډون اعلان یې وکړ.

د حنیف اتمر په مشرۍ د سولې او اعتدال ټیم د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي، د یادې جرګې د جوړېدو په تړاو ورسره مشوره نه ده شوې او حکومت د دې جرګې ټولې چارې تر ارګ پورې محدودې کړې، چې د سیاسي جریانونو په ګډون هېڅ لوری پکې ښکېل نه دی. د اتمر ټاکنیز ټیم ویلي، چې یاده جرګه د ولسمشریزو ټاکنو لپاره یوه کمپاینې هڅه ده او ولسمشر غني غواړي د یادې جرګې په ترسره کولو سره د خپل واک موده وغځوي. د دغه ټاکنیز ټیم ویاند قادرشاه ویلي: «حکومت د مشورتي لویې جرګې په تړاو له ګڼو ټاکنیزو ټکټونو سره مشورې نه دي کړې او نه یې د دوی نظریات اورېدلي دي، نو ځکه موږ او له موږ سره مل سیاسي ګوندونه له دغه جرګې سره پرېکون اعلانوي».

تر حنیف اتمر وروسته د ولسمشریزو ټاکنو ګڼو نورو نوماندانو رحمت الله نبیل، فرامرز تمنا، نورالحق علومي او احمدولي مسعود انتخاباتي ټیمونو هم د بېلابېلو اعلامیو په خپرولو سره لویه جرګه تحریم کړې او ویلي یې دي چې په دې جرګه کې ګډون نه کوي.

دوی دغه راز زیاته کړې چې د سولې په نوم په هغو مجالسو کې ګډون نه کوي چې د خاصې حلقې د مشخصو اهدافو د تطبیق لپاره نیول شوې وي.

د ولسمشریزو ټاکنو نوماند نورالحق علومي ویلي: «حکومت بې طرفه کار نه کوي. مشورتي لویه جرګه هم د حکومت او خاصې حلقې د مشخصو اهدافو د تطبیق لپاره جوړه شوې ده، نو ځکه موږ له دغه جرګې سره پرېکون کوو».

له دې سره د حزب اسلامي، وحدت اسلامي، جمعیت او جنبش اسلامي ګوندونو په شمول د افغانستان مطرحو سیاسي جریانونو او احزابو هم وار له مخه له یادې جرګې سره پرېکون اعلان کړی او دغه جرګه یې حکومتي ګڼلې ده.

د حزب اسلامي غړو ویلي چې د جرګې د تدویر کمېسیون او د غړو د انتخاب لپاره ټاکل شوي کسان تر ډېره حکومتي دي او حکومت له یادې جرګې د سیاسي اهدافو لپاره استفاده کول غواړي.

ارګ بیا پرون ویلي وو چې له ځینو ټاکنیزو ټکټونو سره خبرې روانې دي او هڅه کېږي چې ستونزې له منځه یوړل شي. د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري ویلي وو، د ډاکټر عبدالله عبدالله له ټاکنیز ټیم سره هم خبرې روانې دي او رامنځته شوې ستونزې به حل شي.

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتم څپرکی
### خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ




په دې خبره ټولو وخندل. ورته ومې ویل:
( دا ګل واخلئ، خپل د ژوند ملګرې ته یې ورکړئ او سبا بیا ماته کیسه وکړئ... دا هم ورته ووایئ چې دا ګل مو ورته په کومه خوشالۍ کې ور وړی.)
سبا ټولو اعتراف وکړ چې د پنځه دېرشو روپیو پانګونې یې د ژوند ملګرې/ ملګری خوشاله کړی و.
کله کله هڅه کوئ چې خپلې کورنۍ ته یو ځانګړی کار وکړئ، ډېرې پیسې مه لګوئ، پیسې دومره مهمې نه دي، مهم شی وخت پېژندل او جدیت دی، بل دا ښودل دي چې تاس ته د کورنۍ ګټې لومړیتوب لري.
کورنۍ خپله ډله کړئ او پلان شوی پام ورته وکړئ. نن سبا ژوند بوخت دی، داسې نه بریښي چې ډېر خلک دې کورنۍ ته وخت ولري. خو که پلان جوړ کړئ وخت ورکولای شئ. د یوه شرکت د عامل مدیر یوه معاون یوه لاره وړاندیز کړې، دې لارې هغه ته هم ګټه رسولې ده:
(کارونه مې ډېر دي، لړ کار باید ځان سره کور ته یوسم، خو کورنۍ ته هم شا نه کوم، ځکه ماته په ژوند کې تر ټولو لوی ارزښت زما کورنۍ ده او دا کار هم د هغوی په مینه کوم. ما داسې پلان جوړ کړی چې کار او کورنۍ دواړو ته وخت ورکوم. له اوه نیمو تر اته نیمو بجو یو ساعت وخت مې دوو وړو بچو ته ورکړی دی. هغوی سره لوبې کوم، کیسې ورته لولم او رسمونه ورسره اچوم، پوښتنې یې ځواب او لنډه دا، دوی چې څه وایي هماغه کوم. دوی سره مې چې یو ساعت تېر کړ، دوی هم خوشاله شي، زما هم ساعت تېر شي، دوی چې اته نیمې بجې ویده شي، زه خپل کار ته ورشم او دوه ساعته کار وکړم.
لس نیمې بجې کار بس کړم، یو ساعت بیا خپلې مېرمنې سره د ماشومانو په اړه غږېږم او د هغوی د راتلونکې په اړه خپل پلانونه شریکوم. دا ساعت مو ډېر ارام وي، ټوله ورځ یو خوا او دا یو ساعت بل خوا.
د دې تر څنګ مې جمعه (رخصتي) هم کورنۍ ته ورکړې ده، دا ورځ ټوله د دوی ده. د هغوی چارو رسېدو ته مې یو پلان جوړ کړی دی، دا نه یوازې هغوی ته ښه ده، بلکې ماته هم ښه ده او یوه تازه انرژي راکوي.
که پیسې ګټئ؟ نو خدمت وکړئ
پیسې او شتمني غوښتل او راټولول طبیعي غریزه ده. پیسې هغه قوت دی چې تاسې او کورنۍ مو ښه ژوند ته رسوي. پیسې د بېوزلو ژوند ښه کوي. پیسې د ژوند مهمه اړتیا ده.
راسل ایچ کانیول په خپل کتاب (د الماسو جریبونه) کې دا پوښتنه ځوابوي چې خلک پیسو ته ولې هڅوي؟ دی وایي: (پیسې درته قران چاپوي، پیسې درته جومات جوړوي، پیسې درته مدرسې چلوي او عالمان روزي، که پیسې نه وي عالمان به هم نه وي.)
څوک چې وایي پیسې مې نه خوښېږي، دا یا د ګناه احساس کوي یا د بې کفایتۍ. دا د هغې ګیدړې کیسه ده چې انګورو ته نه رسېده، نو ویل یې چې انګور تروه دي.
نو پیسې مهمې دي، خو فکر پر دې پکار دی چې خلک پیسې څنګه ګټي؟ په هر ځای کې داسې خلک شته چې لومړی پیسو ته ګوري، خو همدا خلک بیا تل بې خرڅه وي، دا ولې؟
ځواب یې اسانه دی: دا خلک پیسې غواړي او په پیسو غوښتلو کې دومره بوخت وي، چې دې ته یې هم پام نه وي چې تر څو د پیسو زړي ونه کرې، تر هغې پیسې نه شي رېبلای او د پیسو زړی خدمت دی! نو د پیسو ګټلو طریقه دا ده چې لومړیتوب خدمت ته ورکړل شي، پیسې ورپسې بیا خپله راځي.
د اوړي یو مازدیګر خپل موټر کې سین سناتي ته روان وم، د تېلو لپاره یوه عادي پمپ ته ودرېدم، ښه ګڼه ګوڼه پرې ډېره وه.
څلور دقیقې وروسته پوه شوم چې ګڼه ګوڼه ولې جوړه ده. سړي چې تېل واچول، ټاکنۍ یې بنده کړه، په موټر یې نظر تېر کړ، د مخې شیشه یې پاکه کړه، بیا زما د څنګ ښیښې ته راغی، راته ویل یې: (صیبه نن هوا خړه ده، زه به درته دا د مخې شیشه له دننه خوا هم پاکه کړم.)
زر یې زما د موټر ښیښه له دننه هم پاکه کړه او دا کار په سلو کې یو پمپ هم نه کوي.
دا ډېر عادي کار و، خو د شپې یې راسره مرسته وکړه، ماته یې لاره پاکه ښکاره کړه او هم دې یوې عادي ښېګڼې بیا دا پمپ له ما نه هېراوه. له دې پېښې وروسته دریو میاشتو کې اته ځل په دې لاره لاړم، هر ځل به مې همدې پمپ کې تېل اچول، هغوی هم به راته موټر پاکاوه. جالبه دا ده چې زه به هلته د سهار څلور بجې ورتلم، خو هر ځل به په تمه وم چې نورې موټرې تېل واچوي او زما نوبت راشي، نو په دې دومره موده کې مې ترې لس ګیلنه تېل واخیستل.
داسې هم کېده چې د دې تېلو پمپ مسئول زه لیدلای و، ویلی یې وای چې دا خو د دې سیمې نه دی، هسې به کومه ورځ راغلی وي، نو ځان ورسره ولې ستړی کړم او ښېښه ورته ولې پاکه کړم، څه باپیار خو نه دی چې هروخت به راځي.
خو د دې پمپ مسئولینو دا ذهنیت نه درلود، دوی لومړی خدمت کاوه، له همدې امله به دوی داسې وخت کې هم موټرو ته تېل اچول، چې نور پمپونه به تقریباً بند او رخصت وو. زه نه پوهېږم چې د دوی تیل به تر نورو ښه وو که نه، بیې یې هم تقریباً نورو سره یو شان وې، خو توپیر یې په خدمت کې و او پر دې خدمت دومره لګښت هم نه راته. د دې پمپ مسئول چې په لومړي ځل زما د موټر ښیښه له دننه پاکه کړه، نو د پیسو لومړی زړی یې وکاره. **دوام لري...**

# عمرالبشیر

شفیق امیرزی



عمرالبشیر د سوډان ډیکتاتور ولسمشر و. هغه له ۱۹۸۹ تر ۲۰۱۹ ز کال پورې حکومت وکړ. البشیر په ۱۹۸۹ ز کال کې داسې مهال واک ته ورسېد، چې د پوځ افسر و. په همدغه وخت کې یې ځینې پوځي افسران ورسره یو ځای کړل او د سوډان د هغه وخت پر واکمن حکومت یې کودتا وکړه. نوموړي د کودتا په ترځ کې د صدیق المهدي انتخاب شوی حکومت نسکور کړ او ځان یې واک ته ورساوه.
عمرالبشیر په لومړي سر کې سخت دریځی اسلامپال و او غوښتل یې له پوځي لارې په سوډان کې حکومت وکړي. خو وروسته وروسته یې د واک تنده پیدا کړه او د واک د بقا لپاره یې په خونړیو جګړو او بریدونو لاس پورې کړ.
البشیر د ۱۹۴۴ ز کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د سوډان د پلازمېنې خرطوم په شمال کې په هوش بانګه نومي ځای کې زیږېدلی دی. نوموړی په سوډان کې د الدحشمیه په نامه د یوې سترې قبیلې له اولادې دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپله سیمه کې کړې او بیا وروسته له خپلې کورنۍ سره پلازمېنې خرطوم ته تللی دی، چې همدلته یې منځنۍ زده کړې پیل کړې. البشیر د خپلې کاکا له لور فاطمې سره واده کړی دی او دویمه مېرمن هم لري.
البشیر په ۱۹۶۰ ز کال کې د سوډان له پوځ سره یو ځای شو او بیا مصر ته لاړ. د مصر په پوځي اکاډمۍ کې یې په قاهره کې زده کړې پیل کړې. بیا یې په ۱۹۶۶ ز کال کې د سوډان د پوځ له اکاډمۍ په خرطوم کې د فراغت سند واخیست. هغه په پوځ کې چټکه وده وکړه او په معتبرو نظامي افسرانو کې ودرېد. وروسته یې د مصر په پوځ کې هم خدمت وکړ او په ۱۹۷۳ ز کال کې د اسرائیلو پر ضد د مصر په یوه جګړه کې هم شامل و. په ۱۹۷۵ ز کال کې البشیر متحده عربي اماراتو ته د نظامي اتشې په توګه واستول شو. په ۱۹۸۱ ز کال کې البشیر بېرته سوډان ته را وګرځېد. همدلته یې خپلو نظامي فعالیتونو ته ادامه ورکړه او په پوځ کې لوړپوړی افسر وګومارل شو.
البشیر چې کله بېرته سوډان ته را وګرځېد، نو په پوځ کې یې ځان ته کار وکړ او نږدې ملګري یې پیدا کړل. هغه په همدې توګه خپل پلانونه تعقیبول، تر دې چې د ۱۹۸۹ ز کال د جون په ۳۰مه یې د سوډان پر قانوني حکومت چې مشر یې صدیق المهدي و، کودتا وکړه. نوموړي په سوډان کې نظامي حکومت رامنځ ته کړ او خپل فعالیتونه یې پیل کړل. هغه په خپله کودتا کې د خلکو وینې تویې کړې او اوس هم پر دې تورن دی چې بشر ضد جنایتونه یې کړي دي.
البشیر چې کله واک ته ورسېد، نو پوځي حکومت ټول سیاسي ګوندونه وځپل. نوموړي ویل چې له دې وروسته په سوډان کې شرعي اسلامي قوانین پلي کېږي. وروسته د یوې مهمې شورا مشر شو. دا شورا نوې جوړه شوه چې ځانګړې واکونه او ځانګړنې یې لرلې. پر شورا یې د نجات یا ژغورنې شورا نوم ایښی و. دې شورا د لومړي وزیر، د دولت د رییس او پر نورو مهمو پوستونو ګومارنې کولې.
نوموړي مهم وزارتونه خپلو نږدې او باوري ملګرو ته وسپارل. د دفاع وزیر یې د خپلو مبارزو ملګری او باوري کس حسن الترابي وګوماره. وروسته له دې یې د خپلو پلانونو پلي کول پیل کړل. مخکې مو هم وویل، چې تر هر څه وړاندې یې سیاسي ګوندونه وځپل. ډېرې سیاسي څېرې چې د پاڅون او خوځښت شک وربادنې کېده، د نوموړي له لوري اعدام شوې. په ورځپاڼو بندیزونه ولګېدل، سیاستوال بندیان شول او ډېر ژورنالستان زندانونو ته واچول شول.
د ۱۹۹۳ ز کال د اکتوبر په ۱۶مه د البشیر واک نور هم ډېر شو. هغه د نجات لپاره رامنځ ته شوې شورا منحل کړه او سیاسي ګوندونه یې له منځه یوړل. د دې شورا ټول واک البشیر ته ورکړل شو. هغه په خپل هېواد کې د پوره واک څښتن و او هر څه یې په لاس کې وو. نوموړی د خپلې خبرې د منلو لپاره ان د خلکو او مخالفانو وژلو ته هم تیار و. البشیر ټاکنو ته زمینه برابره کړه، تر دې چې په ۱۹۹۶ ز کال کې په ټاکنو کې د پنځو کلونو لپاره د سوډان ولسمشر وټاکل شو؛ خو ډېری پر دې باور دي چې دغه ټاکنې له درغلۍ، خرابۍ او ستونزو ډکې وې.
البشیر د ۱۹۹۶ ز کال په ټاکنو کې د پنځو کلونو لپاره د سوډان ولسمشر وټاکل شو او حسن الترابي د ملي مجلس غړی او وروسته د دغه مجلس مشر شو. البشیر په ۱۹۹۸ ز کال کې اساسي قانون بدل کړ او دې مسئلې دې نوموړي ډلې ته تر پخوا ډېر واکونه ورکړل. ده د اساسي قانون د منلو لپاره پر پارلمان یا د سوډان پر ملي مجلس کودتا وکړه. د پارلمان مخې ته یې سرتېري او ټانګونه ولېږل او پر الترابي باندې یې حمله وکړه.
په ۲۰۰۰ ز کال کې بیا په سوډان کې له درغلیو او ورانیو ډکې ټاکنې ترسره شوې. په دغو ټاکنو کې د پنځو نورو کلونو لپاره هم البشیر ته واک ورکړل شو. له ۲۰۰۵ ز کال وروسته یې د انتقالي دولت تر نامه لاندې او د سولې د هڅو په پلمه، پنځه کاله نور هم واک ته ادامه ورکړه. تر ۲۰۱۰ ز کال پورې یې بیا د حکومت واګې په لاس کې وه او په دې موده کې هېڅ ډول ټاکنې ونه شوې.
وروسته له دې چې په سوډان کې په ۲۰۰۵ ز کال کې د کورني جنګ د پای ته رسولو لپاره هڅې پیل کېږي، نو انتقالي دوره کار پیلوي. تر ۲۰۱۰ ز کال پورې دا دوره وخت نیسي او د سولې خبرې روانې وي. د سالوا په مشرۍ د سوډان ازادي غوښتونکی غورځنګ چې تر دې وړاندې د حکومت پر وړاندې جنګېدو، په دغه وخت کې په ټاکنو کې برخه اخلي. دوی تر دې وړاندې د سوډان په جنوب کې جګړې کولې، خو د سولې تر معاهدې وروسته یې ټاکنو ته تیاری وښود.
البشیر د ۲۰۱۰ ز کال په ټاکنو کې ۶۸ سلنه رایې وګټلې. اروپایي ټولنې بیا هم دغه ټاکنې له درغلیو او فساد ډکې وبللې. دوی ادعا وکړه چې په ټاکنو کې عدالت نه دی شوی او هر څه له ستونزو ډک وو.
په ۱۹۹۰ ز کال کې په سوډان کې پراخ سیاسي اختلافونه رامنځ ته شول. البشیر له خپل ملګري الترابي سره مخالف شو. په ۱۹۹۶ ز کال کې تر ټاکنو مخکې الترابي غوښتل چې د سوډان اساسي قانون ته په کتو، د ولسمشر واکونه راکم کړي، خو البشیر یې مخالفت وکړ او پر پارلمان یې پوځي برید وکړ او همغه وو چې نوموړی یې ونیو. خو د سولې تر یوې هوکړې وروسته یې له زندان څخه ازاد کړ. الترابي نه غوښتل له دې وروسته د البشیر ملاتړ وکړي. بلخوا په دغه وخت کې د سوډان په ډېرې برخو کې د القاعدې شبکې تحرکات پیل شول. امریکا تور پورې کړ، چې د سوډان ولسمشر البشیر او پخپله الترابي له القاعدې او نورو ډلو سره اړیکې لري او ان دوی ته اجازه ورکوي چې له سوډانه بهر ترهګریز بریدونه وکړي. امریکا له ۱۹۹۰ ز کال وروسته سوډان د ترهګرو د ملاتړي هېواد په کتار کې راوست. له دغه هېواد سره یې ټولې اړیکې پرېکړې او سوداګري یې ورسره بنده کړه.
البشیر چې کله ځان په نړیواله کچه په خطر کې ولید او پوهېده چې ورو ورو د امریکا دښمني په غاړه اخلي، نو له امریکا سره یې د اړیکو جوړولو هڅې پیل کړې. د دفاع وزیر یې په پټه امریکا ته واستاوه او هلته یې له امریکایي چارواکو سره اوږدې خبرې وکړې. هغه غوښتل چې د امریکا او سوډان ترمنځ شته اختلافونه له منځه یوسي. امریکا ترې وغوښتل چې د القاعدې او نورو ترهګرو شبکو په اړه باید د سوډان حکومت اقدام وکړي او دغه ډلې له منځه یوسي. البشیر دغه کار ته تیاری وښود او له امریکا سره یې د اړیکو په لړ کې د ترهګرو او افراطي ډلو پر وړاندې جګړه پیل کړه.
سوډان د البشیر د واکمنۍ پر مهال د خونړیو کورنیو جګړو شاهد و. جنوبي او ختیځ سوډان په خپلو کې جګړه کوله. کله چې البشیر واک ته ورسېد، نو جګړه د پوځ او خلکو ترمنځ پیل شوه. د جنوبي سوډان ازادي غوښتونکي ګوندونه د البشیر د پوځ له لوري سخت وځپل شول. میلیونونه کسان له جنوبي سوډانه تېښتې ته اړ شول. لوږه او قحطي اوج ته ورسېده. میلیونونو کسانو د ژوند لومړنیو اسانتیاوو ته لاسرسی نه درلود. ښوونځي، عامه تاسیسات، ځنګلونه او طبیعي منابع په جګړه کې له منځه لاړل؛ خو البشیر لا هم د دې غوښتنه کوله چې دغه ډلې باید وځپل شي.
په سوډان کې د جګړو پیل او نانډرۍ د عمرالبشیر د حکومت د وخت خبره نه وه؛ بلکې په ۱۹۶۶ ز کال کې په دغه هېواد کې خونړیو جګړو زور اخیستی و. تر ډېره په دغه هېواد کې د سیاسي ډلو ترمنځ د واک پر سر شخړه روانه وه. اروپایي ټولنې، امریکا، متحده عربي اماراتو او نورو په ځلونو هڅه وکړه، چې په دغه هېواد کې روانو اختلافونو ته د پای ټکی کېږدي؛ خو عمرالبشیر د هغو کسانو له ډلې و، چې په بې رحمانه توګه یې جګړه کوله او بې رحمانه وژل یې کول. هغه د ملګرو ملتونو او همدا راز د جرمونو د نړیوالې محکمې له لوري د عامو خلکو په وژنه تورن دی او د څه باندې ۳۰۰ زرو کسانو د وژلو په قضیه کې مجرم دی.
د راپوړونو له مخې، د سوډان په جګړه کې د وژل شوو کسانو شمېر متفاوت دی. د سوډان حکومت وایي چې په جګړو او تاوتریخوالي کې تر لسو زرو پورې کسان وژل شوي دي. ملګري ملتونه بیا وایي چې تر ۳۰۰ زرو پورې کسان له ۲۰۱۰ ز کال راهیسې د البشیر په جګړو کې وژل شوي. خو یو بل راپور بیا ښیي چې د ۲۰۰ او ۴۰۰ زرو ترمنځ سوډاني وګړي په دغو جګړو کې وژل شوي دي.
د جرمونو نړیوالې محکمې په همدې تړاو د سوډان ولسمشر عمرالبشیر په جنګي جنایت تورن کړی دی او د زرګونو انسانانو قاتل یې بللی دی. د جرمونو نړیوالې محکمې په ځلونو د عمرالبشیر د محاکمه کولو غوښتنه کړې ده. اوس چې هغه نیول شوی، ډېر احتمال شته چې یوې نړیوالې محکمې ته وسپارل شي.
په تېرو میاشتو کې په سوډان کې پراخ لاریونونه روان وو. خلکو د البشیر د حکومت ختمول غوښتل. د اپریل په ۱۱مه پوځ پر دې بریالی شو، چې د البشیر واکمني ختمه کړي. د هغه ټوله کابینه زنداني کړې او ژمنه یې وکړه چې هغه به محاکمه کېږي. اوس په سوډان کې انتقالي حکومت جوړ شوی دی او د نوي حکومت تر جوړېدو پورې به انتقالي شورا حکومت کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۹۵ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ۵۳۵ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,٤۰ |
| £ | ۱۰۰,۹۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

# په سوډان کې لاریون کوونکو له پوځي شورا غوښتي چې ژر تر ژره واک ملکي حکومت ته وسپاري

په سوډان کې لاریونکوونکو د دغه هېواد له پوځي مشرانو غوښتي، چې سمدستي دې واک ملکي حکومت ته وسپاري، څو هغه پخوانی ولسمشر عمرالبشیر محاکمه کړي.

دغه غوښتنه د سوډان پروفېشنل اسوسیشن په نوم ټولنې چې د بشیر پر ضد یې وروستي لاریونونه تنظیم کړي وو، کړې ده.

دې ټولنې همدا راز غوښتنه کړې چې دغه انتقالي حکومت او وسله وال ځواکونه به بشیر او د استخباراتو د ملي او امنیتي ادارو ټول رییسان محاکمه کوي.

په زرګونو لاریونکوونکو د سوډان په پلازمېنه خرطوم کې د پوځ د مرکزي قرارګاه په مخ کې، د اعتراض په توګه خیمې درولې چې پر واکمنې پوځي شورا چې له قدرته د عمرالبشیر تر لرې کېدو وروسته یې قدرت په لاس کې اخیستی، خپلو فشارونو ته دوام ورکړي.

د دغو لاریونونو تنظیموونکې ټولنې له خپلو ملاتړو غوښتي، چې خپلو اعتراضونو ته تر هغو دوام ورکړي، څو یې چې ټولنې غوښتنې منل شوې نه وي. د لاریونوالو د دغو غوښتنو په اړه د پوځي شورا یوه ویاند چې له نورو غړو سره یې په خبري غونډه کې حاضر و، څه نه دي ویلي؛ خو یوازې د استخباراتي ادارې د نوي مشر د ټاکلو اعلان یې کړی دی.

د امریکا متحده ایالتونو، برېټانیا او ناروې ورمه ورځ ویلي، چې د سوډان پوځي چارواکي او نور اړخونه باید یوې ملکي واکمنۍ ته د انتقال پر سر خبرې وکړي.

بلخوا د سوډان د بهرنیو چارو وزارت له نړیوالې ټولنې غوښتي، چې په سوډان کې د ډیموکراټیک انتقال یوه هدف ته په رسېدو کې د واکمنې پوځي شورا ملاتړ وکړي.

دغه راز د یاد هېواد د پوځي شورا نوي مشر، جنرال برهان د تېرې شنبې په ورځ ژمنه کړې، چې د بشیر رژیم به ړنګوي او د شپې له خوا پر ګرځېدو راګرځېدو بندیز به سمدستي لرې کړي.

نوموړي همدا راز ژمنه کړې چې ټول هغه کسان به محاکمه کړي، چې د لاریونکوونکو په وژلو کې لاس لري.

هغه زیاته کړې، ټول هغه معترضین به چې د بشیر د واکمنۍ په وروستیو اونیو کې په هېواد کې د اعلان شوي اضطراري حالت په ترڅ کې نیول شوي، خوشې کړي.

جنرال برهان وروسته له هغې چې جنرال اواد ابن عوف له قدرته د بشیر تر لرې کېدو وروسته په ۲۴ ساعتونو کې د پوځي شورا له مشرۍ استعفا کړې ده، د دې شورا واګې په لاس کې اخیستې ده.

د سعودي عربستان په ګډون، متحده عربي اماراتو هم د انتقالي شورا ملاتړ کړی دی.

سوډان د متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان په ګډون، د هغه پوځي ائتلاف غړی دی چې په یمن کې د ایران ملاتړو حوثي یاغیانو پر ضد جګړه مخ ته وړي.




# عبدالله له امریکایي سناتورانو سره په خبرو کې د سولې لپاره د خلیلزاد هڅې ستایلې دي



د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، چې اوس هم طالبان د سولې پر وړاندې خنډ دي او د سولې له پروسې ابزاري کار اخلي.

د اجرایه ریاست له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې نوموړي دغه خبرې د امریکا د کانګرېس له پلاوي سره په لیدنه کې کړې دي.

سرچینې زیاته کړې چې په دې لیدنه کې په افغانستان کې د ناټو قوماندان، جنرال میلر او د امریکا سفارت استازو هم ګډون کړی و. هغه ویلي چې ولسمشریزې ټاکنې باید پر خپل وخت ترسره شي، ځکه چې رښې او عادلانه ټاکنې د افغانستان د ثبات بنسټ جوړوي. اجرایه رییس دغه راز د سولې د پروسې په اړه ویلي، چې د خلیلزاد په مشرۍ د سولې له هڅو ملاتړ کوي او هیله یې ښودلې چې رواني هڅې بین الافغاني مذاکراتو ته لار پرانیزي.

نوموړي د طالبانو اعلان شویو عملیاتو ته په اشارې سره ویلي: «لا هم طالبان د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي». عبدالله ویلي، دا چې هغوی اوس هم په رښتیا سوله غواړي، لا ډاډه نه دی؛ خو زیاته کړې یې ده چې طالبان د سولې له پروسې د ابزار په توګه کار اخلي. اجرایه رییس زیاته کړې چې خلک نور له ٤۰ کلنې جګړې ستړي شوي او سوله غواړي او د ملي یووالي حکومت به د سولې له هر فرصته په استفادې، د سولې لپاره هڅې رواني وساتي.

نوموړي ویلي، که د سولې لپاره واقعي فرصت برابر وي، ښه به دا وي چې د سولې لپاره هڅې او پام زیات شي.

هغه دغه راز ټینګار کړی چې ټاکنې او سوله دواړه جلا بحثونه دي، چې د حکومت لخوا مخ ته وړل کېږي. د نوموړي په خبره، نور سیمه ییز مسایل باید د دې لامل نه شي چې پر پاکستان د امریکا تمرکز کم شي، هغه ډول چې د عراق جګړې له افغانستانه د امریکا مخ واړاوه.

عبدالله زیاته کړې، اوس په سیمه ییزه کچه هم بدلونونه راغلي او اړتیا ده چې پر پاکستان فشار ډېر شي، ځکه لا هم داسې نه معلومېږي چې پاکستان دې طالبان تر فشار لاندې نیولي وي.

د امریکا د کانګرېس غړو له افغانستانه د خپل ملاتړ د دوام ډاډ ورکړی او ویلي یې دي چې دوی د سولې له پروسې ملاتړ کوي.

# سولې شورا: د قطر خبرو نوی پړاو د حکومت او طالبانو د رسمي مذاکراتو د پیل لپاره مهم دی



د سولې عالي شورا ویلي، په قطر کې د زلمي خلیلزاد او طالب استازو ترمنځ د خبرو نوی پړاو د حکومت او طالبانو د رسمي مذاکراتو د پیل لپاره ډېر مهم دی.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ازادي راډیو ته ویلي، دا غونډه کولای شي له طالبانو سره د مخامخ خبرو په برخه کې د پرتو خنډونو په لرې کولو کې ګټوره واقع شي.

هغه زیاته کړې: «په قطر کې د خبرو نوی پړاو د حکومت او طالبانو د رسمي مذاکراتو د پیل لپاره ډېر مهم دی. هر ګام چې پورته کېږي، له شکه پرته د سولې په خیر او د افغانستان د خلکو، ګاونډیانو، سیمې او نړۍ په ګټه دی او هیله لرو چې دا غونډې مثبتې نتیجې ولري».

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ورمه ورځ ویلي وو، چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد به د دوشنبې په ورځ(تېره ورځ) د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو له استازو سره خبرې وکړي.

امریکا او طالبان په داسې حال کې د خبرو شپږم پړاو پیلوي، چې افغان حکومت او ځینې سیاسي څېرې لا هم د قطر د بین الافغاني خبرو اترو په اړه موافقې ته نه دي رسېدلي.

د مصالحې د رهبرۍ شورا غړي محمد اسماعیل خان ویلي، که حکومت دوحې غونډې ته چې د روانې میلادي میاشتې په ۱۹مه نېټه جوړېږي، د پلاوي په ټاکلو کې بریالی نه شي، نو لسګونه افغان سیاسیون به د مسکو د تېرې غونډې په څېر پکې برخه واخلي.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د نړیوالو چارو د کمېسیون مرستیال، داوود کلکاني په قطر کې د امریکایي چارواکو او طالبانو ترمنځ دغه پړاو خبرې د سولې پروسې لپاره برخلیک ټاکونکې بللې دي.

هغه ویلي: «دا غونډه به برخلیک ټاکونکې وي، ځکه چې د سولې پروسې پر وړاندې یو لړ خنډونه موجود دي. دواړه خواوې باید نهایي تصمیم په دې برخه کې ونیسي. زه په دې فکر کې یم چې ښاغلی خلیلزاد باید پر پاکستان او طالبانو فشار واچوي او په دې کار سره د سولې لپاره ښه زمینه برابرېږي».

# چارواکي وایي، ډېر ژر به هند ته د چین له لارې هوایي لار پرانیستل شي

په داسې حال کې چې هند ته د پاکستان د هوایي فضا له تړلو نږدې دوې میاشتې تېرېږي، د افغانستان د هوایي چلند ملکي ادارې ویلي، هڅه کوي چې هند ته د خپلو پروازونو لپاره د چین د فضا له لارې هوایي دهلېز پرانیزي.

د دې ادارې ویاند محمدقاسم رحیمي ازادي راډیو ته ویلي، هند ته د چین د فضا له لارې افغان پروازونو ته د اسانتیاوو د برابرولو په هدف تخنیکي څېړنې پیل شوې دي.

نوموړي زیاته کړې: «اوسمهال زموږ همکاران له تخنیکي پلوه پر موضوع کار کوي. په پام کې ده چې هند د چین له لارې له افغانستان سره وصل کړو، دغه مسیر لنډ هم دی او پر لګښتونو به هم تاثیر وکړي. کار یې له ۵۰ تر ٦۰ فیصده شوی او هیله ده چې ډېر ژر پای ته ورسېږي».

دا په داسې حال کې ده چې د کابل – ډیلي ترمنځ پر پروازونو هغه مهال بندیز ولګېد، کله چې نږدې دوې میاشتې مخکې د هند تر کنټرول لاندې کشمیر په پلوامه سیمه کې، پر هندي پوځیانو له خونړي برید وروسته، هندي هوایي ځواکونو د پاکستان پر ځینو سیمو هوایي بریدونه وکړل.

دغو نښتو د دواړو هېوادونو ترمنځ ژور کړکېچ رامنځته کړ او پاکستان پر خپلې فضا د کابل-ډیلي ترمنځ پر پروازونو بندیز ولګاوه.

د افغانستان د هوایي چلند ادارې ویلي، پاکستان ژمنه کړې چې د روانې میلادي میاشتې په ۲۴مه به افغان الوتکو ته د خپلې فضا له لارې اجازه ورکړي، چې هند ته پروازونه وکړي.

د افغانستان د هوایي چلند د ملکي ادارې د ویاند په خبره، پاکستان له هند سره تر نښتې وروسته د سیمې د ټولو هېوادونو پر هغو پروازونو بندیزونه لګولي، خو په خبره یې که دغه بندیزونه یوازې پر افغان پروازونو لګول شوي وي، پر وړاندې به یې د ورته عمل په کولو فکر وشي.

بلخوا د افغانستان د هوایي شرکتونو د ټولنې رییس فرید پیکان ویلي، پاکستان په نږدې دوو میاشتو کې د افغان پروازونو پر مخ د خپلې فضا د خلاصېدو په اړه تر اوسه درې ځلې ژمنې کړې، خو عملي کړې یې نه دي.

دغه راز د سوداګرۍ او صنایعو خونې مرستیال خان جان الکوزي هم ویلي، هند ته د افغانستان د صادراتو او وارداتو تر ټولو لنډه او ارزانه لاره د پاکستان فضا ده او موږ هیله من یو چې دې ستونزې ته ډېر ژر د حل لار وموندل شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۱۶مه | دویم کال | ۳٦٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۱۸ | ۲۱ | ۲۰ | ۲۲ | ۱۹ |
| ۷ | ۸ | ۱۳ | ۱٤ | ۱٦ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵٤ | لمر ختل ۰۵:۲۲ | ماسپښین ۱۱:۵٤ | مازیگر ۰۳:۳۳ | ماښام ۰٦:۲٦ | ماخوستن ۰۷:۵٤

## نړۍ



# په سوډان کې لاريون کوونکو له پوځي شورا غوښتي چې ژر تر ژره واک ملکي حکومت ته وسپاري

۳

## امریکا: له وينزويلا سره د مرستې لپاره به خپل ټول امکانات وکاروو



د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ويلي، واشنگټن به له وينزويلا سره د مرستې لپاره خپل ټول اقتصادي او سياسي وسايل وکاروي.
په وينزويلا کې وروسته له هغې سياسي کړکېچ زور اخيستی دی، چې د نېکولاس مادورو د واک پر ضد خلک لارو کوڅو ته راووتل او د دغه هېواد د پارلمان رييس، خوان گوايدو خپل ځان د دغه هېواد موقت ولسمشر اعلان کړ.
پامپيو د کولمبيا په سرحدي ښار کوکوټا کې د خبرو پر مهال دغه راز ويلي، هغه هېوادونه به هم لوړه بيه پرې کړي چې په وينزويلا کې د نېکولاس مادورو د واک د دوام ملاتړ کوي.
روسيه، ايران، چين او کيوبا هغه هېوادونه دي، چې د نېکولاس مادورو ملاتړ کوي.
بلخوا امريکا او لسگونو نورو اروپايي هېوادونو بيا په وينزويلا کې له خوان گوايدو خپل ملاتړ اعلان کړی دی.
د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو چې چيلي، پاراگوای او پيرو ته يې د خپل دري ورځني سفر په وروستي پړاو کې خبري کولې، ويلي: «د امريکا متحده ايالتونه به په ټولو اقتصادي او سياسي وسايلو چې لري يې، د وينزويلا د خلکو مرستې ته دوام ورکړي».
نوموړي په دې لړ کې په ځانگړې توگه د ويزو د لغوه کولو او بنديزونو يادونه هم کړې ده.
د امريکا متحده ايالتونو دغه راز مسکو ته هم خبرداری ورکړی، چې ژر تر ژره هغه سل تنه روسي سرتېري له وينزويلا وباسي، چې تېره مياشت دغه هېواد ته رسېدلي دي.

## خامنه‌يي د ايران له سېلاب ځپلو سيمو سره د مرستې لپاره دوه ميليارده ډالره منظور کړي دي



د ايران ستر مذهبي مشر ايت‌الله علي‌خامنه‌يي په دغه هېواد کې د وروستيو سېلابونو له امله، له زيانمنو شويو سيمو سره د مرستې او بيارغونې لپاره له ملي پراختيايي صندوقه، دوه ميلياره ډالر منظور کړي دي.
د ايران د دولتي رسنيو د راپور له مخې، د دغه هېواد حکومتي چارواکو او مرستندويه ټولنو ويلي، چې وروستيو سېلابونو؛ لارو، سړکونو، کورونو او کرنيزو ځمکو ته د شاوخوا دوه نيم ميلياردو ډالرو په ارزښت زيانونه اړولي دي. د چارواکو په خبره، دا په ۷۰ کلونو کې په ايران کې تر ټولو سخت سېلابونه وو، چې د وژل شويو کسانو شمېر يې ۷٦ تنه ښودل شوی دی. سېلابونو دغه راز له ۲۲۰ زرو زيات کسان دې ته اړ کړي، چې په بېړنيو ځايونو کې ځای پر ځای شي. د ايران د دولتي ټلوېزيون د خبر له مخې، ايت‌الله علي خامنه يي په هغه ليک کې چې ولسمشر حسن روحاني ته يې استولی، ويلي چې له پراختيايي ملي صندوقه به له دغو پيسو هغه وخت استفادې ته اجازه ورکول کېږي، چې نورې مالي منابع پيدا نشي.
په ورته وخت کې د ايران د کورنيو چارو وزير عبدالرضا رحمان فضلي د دغه هېواد پارلمان ته ويلي، چې د ايران له ۳۱ ولايتونو، ۲۵ ولايتونه وروستيو سيلابونو زيانمن کړي دي.

## رئيس جمهور غني:
## نقشهٔ واضح از زمين و املاک دولتی آماده شود



رئيس جمهور غنی ضمن اينکه هدايت داد که نقشهٔ واضح از زمين و املاک دولتی آماده شود، مي‌گويد، در يک ماه آينده، حرکت و جهت واضح در امر مصئون‌سازی و جلوگيری از غصب زمين به ميان آيد.
در خبرنامه ای دفتر مطبوعاتی رياست جمهوری آمده است که جلسهٔ کميتهٔ هماهنگی و پيگيری قضايای غصب زمين و املاک دولتی و عامه ديروز به رياست محمد اشرف غنی رئيس جمهوری کشور در ارگ برگزار گرديد.
منبع افزوده است که در اين جلسهٔ اشتراک کنندگان، گزارش اقدامات ادارات مربوطهٔ شان در راستای جلوگيری از غصب زمين و املاک، با رئيس جمهور شريک ساختند.
رئيس جمهور غنی ضمن قدردانی از کارکردهای ادارات ذيدخل در راستای مبارزه با غصب زمين و املاک، گفت که نياز است تا ديدگاه مشترک و هماهنگی در رابطه به جلوگيری از غصب زمين و املاک ميان ادارات مربوطه به وجود آيد و يک بحث واضح در رابطه به استناد حقوقی جلوگيری از غصب زمين و املاک، تحت نظر سرور دانش معاون دوم رياست جمهوری، صورت گيرد.
همچنان غنی به وزارت شهرسازی و اراضی هدايت داد که نقشهٔ واضح از زمين و املاک دولتی آماده شود، تا بعد از اين يک آدرس واضح در اين رابطه وجود داشته باشد.
وی افزود که زمين‌ها، شهرک‌ها، املاک وسيع و ساحات غير قانونی طبقه‌بندی شوند تا بر مبنای آن، ادارات به امور مربوطهٔ شان رسيدگی بهتر بتوانند.
موصوف با اشاره به اينکه هدف شان مصئون‌سازی ملکيت‌ها می‌باشد، گفت: «حق مسلم هر شهروند است تا زمين و ملکيت با اعتبار داشته باشد».
غنی به ادارات مربوطه هدايت داد تا در يک ماه آينده، حرکت و جهت واضح در امر مصئون‌سازی و جلوگيری از غصب زمين به ميان آيد.

## ژوند

## ښښنه کول مو د وجدان له عذابه ژغوري



مور او پلار چې په ماشومتوب کې يې ستاسې له تمې سره ستاسو غوښتنو ته رسيده‌گي نه وي کړې او ډېر نور کسان چې په ژوند کې يې دردولي وی، دغه ټول کله کله ستاسو په وجود کې دومره زور ټپ رامنځته کوي، چې له ځان سره وايي: «هېڅکله يې هم نه ښښم»، «ځينې کسان هېڅ د ښښلو ارزښت نه لري»، «ځينې پېښې هېڅ د ښښلو نه دي»؛ خو له بلې خوا مذهبي مشران او ارواپوهان وايي چې ښښنه کول مو د وجدان له عذابه ژغوري او فشارونه مو له منځه وړي، چې دغه څه د روغتيايي او رواني مسايلو لپاره حياتي ارزښت لري.
هر څوک کېدای شي يوه ورځ تېروتنه وکړي. فکر وکړئ تاسې خپله تېروتنه کړې ده او له مقابل کس څخه يې د ښښنې تمه لرئ. ښښنه په شخص کې هيجاني او عاطفي حالت پيدا کوي. عاطفه، غوسه له منځه وړي؛ خو غوسه بيا د انسان مثبته انرژي له منځه وړي او کېدای شي کله ناکله خو يې د تباهۍ سبب هم شي.
کېدای شي تر اوسه مو د ډېرو بدو پېښو لکه وهلو–ډبولو او يا قتل خبرونه اورېدلي وي. پوهېږئ! قتل ډېری وخت د ډېرې غوسې پايله وي. اوس فکر وکړئ چې که د خاوند او مېرمنې تر منځ هم ښښنه نه وي او ژوند يې له خپگان او غوسې ډک وي، برخليک به يې څه وي؟

## د زړه ناروغي او لاملونه يې



د زړه ناروغي هر کال په ټوله نړۍ کې د څه باندې ۱۷ ميليونو انسانانو د مړينې لامل کېږي. وېره موجوده چې تر راتلونکو شلو کلونو پورې به دا شمېره په کال کې تر ۲۳ ميليونو انسانانو هم واوړي. له دغو مړينو څخه شاوخوا شپږ ميليونه يې د مغزي سکتې يا گوزڼ له امله بلل شوي دي او څه د پاسه اووه ميليونه نورې مړينې يوازې د زړه د رگونو د بندېدو له کبله پېښېږي. له بده مرغه نن سبا د ماشومانو، ځوانانو او زړو وگړو، غذايي رژيم د دې لامل شوی چې د زړه خطرناکو ناروغيو ته لار هواره شي.
همدا ناوړه غذايي رژيم دی، چې له ډېرش کلنۍ د کم عمر کسان هم د زړه د دربدو پر ناروغۍ اخته کېږي. ډاکټران چاغوالی، د نشه يي توکو کارول، د هوا ککړتيا، د کبانو د غوښې او فيبرونه کارول، غير صحي خواړه، د شکرې ناروغي او د وينې لوړ فشار د زړه ناروغيو اصلي لاملونه بولي. له دې ډلې ځينې گواښونه يو له بل سره تړلي دي او يو گواښ د بل شونتيا لوړولی شي. دغه راز د فزيکي فعاليت نه کول او عمر ته په کتو، د غذايي رژيم تر منځ د توپير نشتوالی هغه څه دي، چې د زړه پر حملې سربېره ځينو نورو وژونکو ناروغيو ته هم لاره هوارولی شي.